# د سیده حسینه ګل د افسانوي مجموعې « د اوښکو مارغان » موضوعاتي جاج

# A Thematic Overview of Sayyeda Hasina Gul's Short Story Collection 'Da Ukhko Maarghaan'

Ruhma Naz *
Dr. Syed Zafar Ullah Bakhshali**

Abstract

By the end of twentieth century, Pashto literature produced many writers whom this land and its Pashtun inhabitants can proudly and honourably look up to. Apart from men, some female writers also have contributed to this field and fulfilled their part with great dedication.

Among these great female writers is Sayyeda Hasina Gul, who has not only made a valuable contribution to Pashto poetry but has also enriched Pashto prose with the warmth and depth of her thoughts. Themes such as women-identity, emotional depth, class struggle, cultural norms and traditions and social hierarchy are are frequently found in her work.

So far, Gul has published seven prose books, including three notable short story collections. Here is a thematic overview of all the stories from her second short story collection 'Da Ukhko Maarghaan'.

**Key Words:** Haseena Gul, Pashtun Women, Pashto Short Stories, Pashto Fiction, Pashto Literature, Gender Roles, *Da Ukho Maarghaan*, Short Story Collection.

پښتو ادب په شلمه صدئ کښې ډېر شاعران ادیبان داسې پېدا کړي دي چې پرې دا خاوره او اولس په اوچتو سترګو فخر او ویاړ کولے شي- په دغه لیکوالانو کښې یو پله که د نارینوو برخه ده نو بل اړخ ته زنانه لیکوالو هم د خپلې برخې ذمه تر سره کړې ده.هم په دغه سترو لیکوالانو کښې یو نوم د اغلې حسینه ګل هم دے .سیده حسینه ګل په کال ۱۹۲۲ کښې د جون د میاشتې په دویمه نېټه د اروابناد میا مظهره شاه کاکاخیل په کور زیارت کاکا صیب نوښار کښې پېدا شوه . میا مظهر شاه کاکاخیل پخپله یو ستر ډرامه نګار وو ځکه اغلې د خپل ابتدائی تعلیم سره سره نورې علمي او ادبي زده کړې د خپل کوره

* Associate Professor (Pashto), Government Girls Degree College Katlang, Mardan.
Email: ruhmanaz1985@gmail.com
** Assistant Professor, Department of Pashto, Abdul Wali Khan University, Mardan, Khyber Pakhtunkhwa.

حاصلې کړې ولې مخکښې ترلسمه تعليم ئې د کينټ هائي سکول نوښار اوتر دولسم ئې د نوښار ډګري کالج نه اوکړو. وړاندې ئې پېښور ريډيو سټېشن کښې د ملازمت شروع کولو په سوب د رسمي تعليم حاصلولو سلسله جاري اونه ساتلې شوه او وروستو ئې تر شپاړسمه تعليم د يوې پرائيويټ طالبعلمې په توګه حاصل کړو ،ورسره ورسره ئې دپښتو ژبې او ادب خدمت ته هم داسې ملا اوتړله چې نه صرف ئې د پښتو شاعرۍ په ميدان کښې د قدر وړ اضافې اوکړې بلکې د پښتو نثر په ميدان ئې هم د خپل فکر خواږۀ اوشيندل او تر دا وخت ئې که يو اړخ ته د شاعرۍ يوولس نو بل اړخ ته د نثرهم اووۀ کتابونه چاپ دي .د اغلې په نثري کتابونو کښې دوه ناولونه،يوه سفر نامه،يو د تنقيد او درې د لنډو کيسو ټولګې دي.دلته د اغلې د دويمې افسانوي مجموعې« د اوښکو مارغان» يو په يو د ټولو افسانو موضوعاتي جايزه وړاندې کولے شي-

د انسان د کيسې اورولو او اورېدو شوق او سوچ ډېر د پخوا نه راروان دے،نو ځکه په څه وخت کښې چې هم د دغه سوچ د بطن نه داستان زېږېدلے وۀ نو وروستوئې ناول، ډرامه او بيا په جديد دور کښې ئې د افسانې صنف ته هم ځلا بخښلې ده-

افسانه د جديد دور پېداوار دے چې په پښتو ادب کښې ئې ابتدا د سيد راحت زاخيلي د کونډه جينۍ نومې افسانې نه شوې ده او تر اوسه پورې په کښې ګڼو افسانه نګارانو د خپل خپل وس مطابق اضافې کړې دي-او د معاشرې ښۀ بد اړخونه،د بني نوع انسان واړه ستونزې او کشالې،انساني ژوند او د ژوند سره تړلي ټول اړخونه په کښې موضوعات پاتې شوې دي- ښاغلے نورالامين يوسفزي او زرمحمد سنګر په خپلې يوې تنقيدي ليکنه کښې د پښتو افسانې په حقله ليکي:

> " د کال نولس سوه اتيا نه را په دېخوا چې پښتو افسانه د هيئت،اسلوب او موضوع په حواله د کوم بدلون سره مخ شوې ده په دې نړېوال کلي کښې د علامت نګارۍ او جديديت سره سره چې د نوي سرمايه دارانه نظام د ځان ځاني په غېږه کښې د انساني قدرونو کوم زوال رامخې ته شوے دے۔زمونږ افسانې دغه ماده پرستي،جنګ پرستي،عدم تحفظ احساس او د انساني رشتو د تقدس زوال په خپل نازک وجود کښې د فني نزاکتونو سره ځاے کړے دے"[1]

د پښتو وړومبۍ افسانه کونډه جینۍ چې د یوې کونډې جینۍ قیصه ده او په دغه اساس د پښتون وطن یوه لویه ستونزه ده ـ ولې دغه موضوع چې د پښتنو په اصلاحي ژوند باندې اړه لري وروستو د ډېرو لیکوالانو د افسانو موضوعاتي مشغله ګرځېدلې ده ـ په دې حقله ښاغلے اسیر منګل لیکي:

> د پښتو وړومبۍ لنډه کېسه« کونډه جینۍ» که په بنیادي توګه یوه معاشرتي ستونزه په ډاګه کوي،ولې په شالید کښې ئې د طبقاتي کشمکش ګور سیوري هم لیدے شي"2

دا شان د وړومبۍ دورې اکثرو افسانه نګارانو او لیکوالو هم دغه موضوع خپله کړه لکه چې ډاکټر عطاء الرحمان عطا لیکي چې:

> "هم په دغه اولني دور کښې یو څو لیکوال نور هم وو چې د افسانې مېدان ته راغلي وو چې په کښې میا ازاد ګل، ماسټر عبدالکریم مظلوم او عبدالخالق خلیق شامل وو. دغه شان د ۱۹۱۷ نه د پاکستان د جوړېدو پورې پښتو افسانې ته یو مضبوط او قوي بنیاد ترلاسه شوے دے ـ د پښتو افسانې د دغه څو لیکوالو نه علاوه لاندیني افسانه نګارو هم په دغه دور کښې د پښتو افسانې په وده کښې خپل کردار لوبولے دے ـ سېدرسول رسا، مولانا عبدالقادر، فاروق شینواري، ایس اے رحمان، عبدالحمید انور، سید نصرالله خان، بېګم فقیر احمد، تحسین الدین، امیر حمزه خان شینواري، ادیب سرحدي، سید فرید الله شاه، محمد اسلام او نور"3

د افسانې دغه بهیر چې د برصغیر پاک و هند د وېش نه پس لږ نور مخکښې راغلو نو پښتو افسانې ته ئې نورنوي نوي سیاسي، ترقي پسند، روماني، جنسي،نفسیاتي او داسې نور موضوعات رادننه کړل هم په دغه بهیر کښې یوه لړۍ د ښځو افسانه نګارانو هم راروانه ده چې سر ئې د س ب ب نه رانیولے شوے او د الف جان خټکې ،زېتون بانو، صفیه حلیم،سلمه شاهین نه راتېر تر سیده حسینه ګل رارسي - او بیا په دوي کښې سیده حسینه ګل هغه لیکواله ده چې مونږ ئې په موجوده او تېر وخت دواړه توکه افسانه نګارانو کښې شمېرلې شو.

اغلۍ حسینه ګل د پښتو په هغه افسانه نګارانو کښې شامله ده چې افسانې ئې د شلمې صدۍ د اخري دوه لسیزو او د یویشتمې صدۍ د سر د دوه لسیزو دي۔ تر دې دمه چې د حسینه ګل کومې افسانې چاپ دي هغه په دریو مجموعو باندې مشتملې دي چې په کښې نیمګړے کتاب (۲۰۱۰)، د اوښکو مارغان (۲۰۱۵) اوکیسې د کوڅې (۲۰۲۵) شامل دي۔

که د موضوع له مخه اوکتل شي نو د اغلۍ حسینه ګل موضوعات په درې ډوله دي۔ یو هغه موضوعات دي چې علامتي دي او معمه ده۔ بل هغه موضوعات چې د پښتنو د عام اولس د ژوند هنداره ده۔ دریم هغه موضوعات دي چې خاص د پښتنو ښځو د ژوند په اړه دي۔ ځکه چې په ټولنه کښې د ښځو کړمې د سړو په نسبت یوه ښځه ډېر محسوسولے او بیانولے شي ،هم دغه وجه ده چې د اغلۍ په درې واړه افسانوي مجموعو کښې د اخري ذکر شوو موضوعاتو برخه زیاته ده . لکه چې ښاغلے اسیر منګل د هغوي د وړمبۍ افسانوي مجموعو په حقله لیکي:

"حسینه ګل (۱۹۲۸) د افسانو یوه مجموعه نیمګړے کتاب پېښور ۲۰۱۰ خپره شوې ده۔ چې په کښې زیاتې د ښځو نفسیاتي او جنسي ستونزې انځور کړې شوي دي او په دې حقله ئې ډېر د زړور توب نه کار اخستے دے۔ په ټولنه کښې ښځو ته او پېغلو ته چې په خصوصي توګه کومې کړمې پېښې دي د هغوي ئې په فني توګه تصویرونه راښکلي دي۔"[4]

هم په دغه تناظر کښې چې د سیده حسینه ګل د دویمې افسانوي مجموعې جاج اخلو نو مونږ وینو چې د سیده حسینه ګل دویمه افسانوي مجموعه « د اوښکو مارغان »په کال ۲۰۱۵ ء کښې د افغانستان ملي تحریک ، فرهنګي څانګه له اړخه چاپ شوه چې ټولې تالې شل افسانې په کښې خوندي دي، چې موضوعات ئې څه په دې ډول دي:

۱: طمع:

«طمع» د دې ټولګې وړمبۍ افسانه ده چې د یوې بې اولاده ښځې او د هغې ددغه غم په اساس لیکلې شوې ده،چې په کښې د لیکوالې د خواه دا حقیقت واضحه کړے شوے دے،چې که الله تعالې یوې ښځې له خپل اولاد ورنکړي نو دغه احساس د هغې د

پوره ژوند دپاره د نیمګړتیا احساس وي،چې په هېڅ حالت نه شي نوریدلے او بله دا چې پردي بچي هېڅ کله د چا نه خپلېږي:

"هغه په دې احساس ډېره خوشحاله وه چې که د خپل تن په صحرا کښې کوم شین بوټے او اونه نه لري چې دا ئې په سېوري دمه شي خو نن هغې یوه داسې اونه تر لاسه کړې ده چې د هغې د خورو ورو څانګو په ګور تور سیوري به هغه ټول عمر په ارام وي او دې احساس د هغې د خپل ژوند محرومي نن د خپل ذات د کرښې نه بهر کړې وه...کله چې د هغې د لېورزي چنغلې په ډېره مینه د هغې سره په فون خبرې اترې کولې..ددې ماشومې جینۍ په خبرو کښې د هغې د پاره ډېره مینه او همدردي وه- ته خفه کېږه مه ځان یواځې او نه ګڼې،زۀ به هم ستا لور یم...! او په دې دلاسه د هغې د ژوند نسکورې ماڼۍ ته لکه چې چا مضبوطه ستن اودروله-"[5]

ولې د هغې دغه امیدونه د طمعې تر حده خو قایم وي ولې په حقیقت کښې هېڅ نه،ځکه چې کله د لېورزي چنغله د نوې ناوې په صورت کښې د دوي کور ته راشي،نو د هغې ټولې وعدې دروغ ثابتې شي-

"هغه په دې طمع وه چې ګلالۍ به ددې څنګ ته کله راځي...چې په ډېره مینه ئې د لاسو نه جارو واخلي...پرېږده چاچي اوس خو زۀ یم کنه...!! خو د دې طمعې او اسرې مور خو د خاورو لاندې شوې وه،او چې د خپل ژوند او وجود... د تنهایۍ احساس به اوزورله نو سترې سترې به د خپلې کوټې د ورۀ په اچولې کټ به خوره وره پرېوته-"[6]

۲: راستون:

راستون نومې افسانه د یو داسې سړي په ژوند لیکلې شوې افسانه ده چې بغېر د خپلې ښځې هره ښځه هغه د پاره د همدردۍ او دوستۍ مستحقه ګرځي،خو د خپلې ښځې د پاره ئې دغه جذبات د نیشت برابر وي،بلکې په خپلې ښځې ورته یو قسم له ځان بد ښکاري،نه ئې چرته بوځي راولي نه نور کوم دغه قسمه غوښتنې ئې پوره کوي،سره د دې

چې ښځه ئې ډېره پاکه،مخلصه ،ښه او صابره شاکره وي،خو یوه خبره وي چې بې تعلیمه وي-او شاید دغه وجه وي چې دے نه غواړي چې زما ښځه دي ما سره ځوک اووینې-

" زما ښځه یوه بې تعلیمه ښځه وه،خو د ډېرو تعلیم یافته ښځو نه ډېره ښه ده،ما هغې ته د هغې ټول حقونه په ډېره مینه ورکول، خو په ټول ژوند کښې په یوه خبره به هغې ته هر ځل پاتې راتلم..چې ما هغه کله هم د ځان سره په موټر سائیکل نه وه کېنولې....او چې د پلار کره یا بله څه غم ښادۍ ته به تله نو اکثر به خپل مشر زوي یا زما کشر رور بوتله-
ماته خدای خبر ولې؟ دا ډېره ګرانه خبره ښکارېده... ډېر ګران کار مې ګڼلو چې بهر دې څوک زما سره زما مېرمن او ویني..."[7]

او کله چې هغه هغې ته خپل حق خپلې خوشحالۍ او بخښې نو دغه خوشحالۍ یو قسم له د هغه د خپلو خوشحالو او اطمینان زېرے ثابت شي- دغه کیفیت افسانه نګارې څه په دارنګ بیان کړے دے:

" ما لکه چې نن د یوې دنیا نوې لارې... زما نه ورکې لارې د خپلې مینه ناکې ښځې د وجود په لمس کښې د هغې په صبر او استقامت موندلې وي-"[8]

**۳: مداري:**

دا افسانه ده یو ښه شاعر او ادیب د بې ارزۍ ژوند ښکاره کوي- چې خپل فن،لیک او تخلیق هغه د پاره د ژوند نور ضروریات نه شي پوره کولي،هغه په خپل لیک ځان او بچي نه شي ساتلے،بلکې د دغه د پاره به ضرور څه بله وسیله لټوي.ځکه دې افسانې مرکزي کردار خپل قلم د خپله لاسه مات کړي او د یو مداري جامه خپله کړي ،او د خپل ځان او د بچو ضرورتونه پوره کړي:

" مخامخ یو مداري په ډېر هنر د تماشګیرو د خوشحالو د پاره خپل ساتلي شادوګې ته ډوګډوګي په غړ ګډولو ،شادوګي داسې نخرې کولې چې تماشګیر ورته د خندا نه شنه وو،دې سره سره مداري په خپلو کرتبونو ،خوږو خوږو خبرو هم د لارویو پام ځانله کلک رانیولے وو ،ټولو

ولاړو خلکو د خبرو او ډوګډوګي په غږ د ګډوډونکي شادوګي د نڅا نه خوند اخيستلو-"[9]

" زما رور به هر چا ته ډېر په وياړ دا خبره کولو چې زما ورور شاعر دے،زما بچوبه هر چاته په ډېره مينه په خپل مکتب کښې دا ډنډوره غږوله چې زمونږ پلار يو ډېر ښه شاعر دے-"[10]

" کتاب چا هم نه لوستلو ،زما اواز چاته هم نه دے رسېدلے-زما يو بچي يوه ورځ زما په غېږ کښې د لوږې نه لتي ووهلي-د دارو د نيشت د لاسه ئې ژوند د لاسه ورکړو-"[11]

په دې افسانه کښې دغه حقيقت واضحه کړے شوے دے چې که قام اولس او د وطن با اختياره طبقه د يو شاعر اديب يا يو فنکار د ژوند ضرورتونه محسوس کړي او هغه له هغه مقام ورکړي کوم چې د هغه حق وي،نو هېڅ کله به هغه خپل فن د ژوند په نورو ضرورتونو قربان نه کړي-

**۴: مينه:**

په دې افسانه کښې مرکزي کردار تابانه چې دګنو بچو مور وي،د خپل خاوند نه دا طمع لري چې د هغې په بيمارئ کښې به هغه رنګ د هغې خيال اوساتي،څنګه چې هغې د خپل خاوند په بيمارئ کښې د هغه ساتلے و، ځکه چې هم دغه بيماري ددې نه وړاندې د هغه وه:

" هغه ورځ خو په تابانې سمه د قيامت وه کله چې په ګل خان د نري رنځ غږ اوکړے شو- دا غږ په ټوله کورنۍ د شين اسمان درتندر ګزار وه،اوس تابانه نوره هم پريشانه وه،ګل خان ته ئې د يو ښه ډاکټر نه د دې رنځ علاج شورو کړو ،دې سره سره ئې د هغه د ارام ډېر خيال ساتلو-"[12]

" ډاکټر تابانې او د هغې بچو ته د دې رنځ نه د نه لګېدو څه ضروري هدايات هم ورکړي وو ،خو تابانې په دې هدايات ډېر عمل نه کولو ،هغې دا ګڼل چې که زۀ د ډاکټر په وينا عمل کوم بيا خو به د ګل خان نه لرې اوسېدل وي او دا هغې نه غوښتل چې د يوې لحظې د پاره هم د ګل خان نه خپل ځان او وجود لرې وساتي-"[13]

او هم د دغه خدمتونو په برکت الله گل خان له خو شفا ورکړه ولې دغه مرض تابانې ته اولګي،خو د ګل خان او تابانې په مرض او حالت کښې دا فرق وو چې که ګل خان ناروغه وونو هر وخت هره لحظه تابانه ورته لاس په نامه ولاړه وه،او چې کله تابانه ناروغه شوه نو هغه بېخي يو اځې وه:

" نن ګل خان خپلې کوټې او کټ ته رانغلو،او چې ګل خان خپلې لور کشمالې ته نن په بله کوټه کښې د کټ څمولو اواز ورکړو،نو د تابانې په خپلو غوږونو باور نه راتلو، هغې چې لږ ساعت پس د ګل خان کټ ته اوکتل نو په هغې کښې کشماله ملاسته وه"[14]

**۵: خېبر:**

افسانه خېبر د خېبر ټکي په تاريخي حېثيت ليکلې شوې افسانه ده،په دې افسانه کښې د مرکزي کردار د دغه ټکي( خېبر ) سره خاص رغبت دے او غواړي چې دغه نوم په چا خپل او خوږ ماشوم ئې کېږدي ،ورارهٔ يا خوريي ولې ديو ماشوم د نامې کېښودو اختيار هم هغه نه لري، تر دې چې دخپل بچي په پېدائش هم هغه له د خپلې خوښې نوم نه شي کېښودلې-

دې افسانه کښې که يو طرف ته د خېبر په تارېخي حېثيت رڼا اچولې شوې ده نو بل اړخ ته په پښتنه ټولنه کښې د ښځو بې ارزي ژړ لې شوې ده:

" ما به دهٔ ته په ډېر منت وويل، زهٔ به تاتا د خپلې برخې ټوله مېوه درکړم خو ګوره!! زهٔ به درته خېبر وايم – ښه؟"[15]

" اخر زما کور هم اباد شو زهٔ د خپلې نصيبې کور ته لاړم،خېبر اوس زما سره په ډېره دعوه زما د ارمان په دنيا کښې شامل وهٔ...خېبر اوس زما د ژوند د حقيقت دنيا ته راروان وهٔ...او بيا هغه لمحه راغله چې زما د خپل وجود خېبر دنيا ته راغلو....اوس زهٔ ډېره خوشحاله وم....د کوم ارمان سره چې ما د مودو راسې مينه کړې وه....هغه زما ژوند ته راغلے وهٔ-"[16]

" لورې زهٔ ډېر خوشحاله يم..ټولې کورنۍ ته دې زمونږ د ټولو د عبدالله راتګ ډېر ډېر مبارک شي- ما چې اوکتل نو زما سخر زما مخکښې په ماشوم نسکور پروت وهٔ-"[17]

**۶: د اوښکو مارغان:**

د اوښکو مارغان د مور په خوږي مينه ليکلي شوي افسانه ده،چې د دي خبرې پخلے کوي چې په دنيا کښې د مور د مينې بل بدل نيشته:

" ما د ټولني هغه خيال هم رد کول غوښتل،چې خوابښي خپله مور نه شي ثابتېدې،ما چې به په ډېره مينه خپلې خوابښې ته د مورې!!! نعرې کړې نو د هغې د لورې د هن ! زويه!!! په وينا ماته لکه چې د ځانه اخوا ډېرخوا يوې جنتي خوشبوئۍ خپلې ورمي خوري کړې وې،زما مور به ماته په مينه رامنډې کړې..."[18]

" په دې کور کښې د مور د مينې د وجود د موندلو په سوب زما د مور د محرومۍ احساس زما نه لري تلې وۀ،ژوند لکه د سپرلو په مسکا خو په دانګو دانګو تېرېدو،خو يوه ورځ چې زما لاس په اور اوسوز يدو،د ډېر تکليف نه مې بې واره د خولې نه وئ موري!!! وختل،چغه مې کړه،خو ډېر وخت تېر شو،ماته يو غږ هم راستون نه شو"19

" ګوره!!! موري!!! سحر مې لاس داسې ډېر سوزېدلے دے!!! ما د لاس ترلے پرهر هغې ته ښکاره کړو،وئ!! ځويه!! بېګاه دې ټوله شپه د لېور توده تبه وه ( د هغې مشر زوے) ټوله شپه مې د هغه سره په وېښه خورلې ده-"[20]

دغسې په هغې( مرکزي کردار) دا خبره واضحه شي چې دغه مور( خوابښي) دهغې نه بلکې د خپل زوے( دهغې د لېور) مور ده،او د هغې خپله مور پخوا د خاورو لاندې شوې ده-

۷: ځپلۍ:

په ځپلۍ نومې افسانه کښې د يو خوار غريب سړي د ژوند قيصه چېړلې شوې ده- چې په خپل ټول ژوند کښې ئې چرته ښاده ورځ نه وې ليدل - خو چې کله ئې اولاد را لوے شي نو زوے ئې اوغواړي چې د خپل پلار هره محرومي لري کړي-او هغه ورله په ښار کښې، او په ژوند کښې په وړومبي ځل ښکلي ځپلۍ واخلي ،خو چې کور ته ئې راوړي نو خبر شي چې د يوې حادثې له کبله ئې د پلار پښې ضائع شوې دي،ګويا ددغه ځپلو په پښو کول هم د هغه په نصيب کښې نه وو-

" هغه لکه چې خپل تېر وخت نېستۍ او غربت د ټول عمر د پاره د خپلې سينې سره جخت ساتل غوښتل،د خپل وجود سره د ګنډلي...لکه د هغه د

پېزار چې مور به ورته بيا بيا په ستن تار ګنډلو...خو يوه ورځ چې د هغه مشر زوے د څه کار د پاره ښار ته روان وو...اراده ئې کړې وه چې که پلار ئې هر څو خپه کېږي خو نن به ورته د ښار نه نوي پېزار خامخا راوړي-"[21]

" د ښار نه تر کلي دا سفر نن ډېر اوږد شوے وۀ،خو هغه په ترخ کښې د پلار د نوي څپلو ډبے کلک نيولے وۀ-"[22]

" هغه چې څنګه لږ نور په پلار راټيټ شو نو يو لاس ئې د پلار په تندي پروت وۀ چې تندي ئې تود وه خو بل لاس ئې د پلار د څادر د لاندې په غزېدلو خپو پروت وۀ خو داسې ئې اوګڼل لکه د سپين څادر د لاندې د پلار د وجود د ونې نه ئې دوه څانګې ببلې ببلې پرتې وي-"[23]

۸: که اباسين راغلے نه وے:

په دې افسانه کښې دې حقيقت پله اشاره شوې چې که يو طرف ته د سيلاب اوبو يو ښار لاهو کړو،او د ډېر وراني سبب شو نو بلخوا هم د دغه اوبو له برکته او د سيلاب د اوبو راوړې زرخېزه خاورو له برکته ورپسې کال ډېر مور ثابت شو د پېداوار په لحاظ ،مطلب هر کار او هره خبره مثبت او منفي دواړه اړخونه لري-

"دا ځل په وطن کښې د خړ خوني سېلاب داسې زوروره بلا راغلې وه چې د وطن دنګې هسکې ماڼۍ ئې په کنډوالو بدلې کړې وې، دړکچه کورونو خو دا حال وه چې هېڅ نخښې ئې نه وې پاتې،ډېر ميئن ئې د يو بل نه جدا کړي وو،ځنې په مرګ او ځنې په ژوند،ډېر خلک تر ډېره وخته د خپلو ورکو مئينو په لټون وه -"[24]

او بيا څه موده پس د هغه ځاے نقشه بيخي بدله وي چې افسانه نګاره ئې څه دا رنګ منظرکشي کوي:

" ښائسته د زمکې غېږې يو بل رنګ ښائسته منظر جوړولو،ډېر څاروي، واړۀ او لوے په ډېرو نخرو په دې شينکي کښې څربدل،لرې ناستو او د اسمان او فضا ګانو په پراخه سينه الوتونکو مارغانو د ژوند نه ډکې سندرې وئيلې،او هغه ټول ځپلو خلقو ته ئې د نوي ژوند نوے پېغام ورکوه-"[25]

" چې ورستو په ګاډي کښې ناست یو کس خپل بل ملګري ته وویل: دا ځل د ا دومره ښېرازي ابادي او شینکي تېرو بارانونو راوړلي ده،زۀ یو ځل بیا د هغه کس په دې خبره یو میاشت مخکښې د تېر شوو بارانونو او سېلابو د تصور یوې خړې چپې د ځان سره په مخه کړم "[26]

۹: سزا:

دا افسانه د قامي سوچ په اساس لیکلي شوې ده، چې غټ مقصد ئې هم دغه دے چې ځان ښه کړئ نو قام به ښه کړئ،هم دغه زمونږ د ماضي حال او د مستقبل غږ دے- په دې افسانه کښې د لیکوالې ځانګړے طرز بیان ښکاره دے،افسانه نګارې دخپل مقصد د وضاحت د پاره د اشارو کنایو نه کار اخیستے او ټوله خبره ئې په علامتي پېرایه کښې بیان کړې ده.چې یو عام قاري ئې په مطلب په اسانه نه شي رسېدلے-

" ما زر اول خپل دواړه لاسونه را اوچت کړل،بیا مې خپل سر راواخست،ماته خپلو سترګو ډېر په مینه مینه کتل،زما ژبې هم خبرې اوکړې او ما خپل ټول وجود په لاسو راټول کړو ،یو یو اندام مې بیا په ځاے کړو ،زۀ یو ځل بیا پېدا شوم -"[27]

۱۰: کور:

په دې افسانه کښې د خپل کور په اهمیت رڼا اچولې شوې ده،دخپل کور خواهش ارمان او تمنا چې د هر ژوندي انسان حق وي، را وړاندې کړے شوے دے:

" دنوي زلموټي اجمل زړۀ به د کور په داسې حالاتو ډېر خپه وۀ، کله کله به ئې د مور و پلار د تسلۍ د پاره د خپله کټه راودانګل، ، ، ،مورې!!!! دا هر څه به د خېره ډېر زر سم شي...!! بس دعا کوئ بیا ګوره حې په لږ وخت کښې درته دا کور مانۍ کوم کنه.!! هغه چې د مور او پلار د مایوسۍ په څادر کښې راټول شوي وجود ته اوکتل نو د ښه ژوند دلاسه ئې ورکړه-"[28]

ولې د هغه دغه ارمان په داسې صورت کښې پوره شي چې په یو سرتېره برید کښې خپل ژوند اوبائیلي- او دغسې د هغه د کور ارمان په ګور بدل شي،او بیا کله چې د سرکار لخوا هغه ته د هغه د کارنامو او شهادت په اعتراف اعزازي رقم ملاو شي نو هغوي په کور کښې

د کور د جوړولو ارمان بیا یو ځل سر راپورته کړي ،ګویا هغه د خپلې وینې په بدل خپلو وروڼو خویندو له کور ودان کړے وے-

**۱۱: ځوز ماځوز:**

ځوز ماځوز هم یوه علامتي افسانه ده او په کښې د دې خبرې بیان شوے دے چې انسان یو داسې مخلوق دے چې پخپله محنت نه کوي او د بل په محنت خېټه اچول غواړي- او د نفاق دغه اژدها د دهٔ نه د ژوند هره خوشحالي تروړي:

"دهٔ ته رایاد شول د دهٔ په دنیا کښې هم یو دغسې خمبه ولاړه ده،د یو لوے کوهي په شکل کښې...او په دې کښې د دهٔ هره خوشحالي سر د لاندې ده په خپله ګوزار کړې ده،دغه کوهي ته دې په خپل یک یوائې ځان رسېدلے وهٔ، دهٔ په کښې هر ځل ښکته کتلي وو ،خو دې تور کوهي کښې د تورې تیرې یوه تکه توره خونړې اژدها ئې وازه خولهٔ هر ځل لیدلې وه چې د دهٔ هره خوشحالي او اجتماعیت ئې په خپله زهرژنه خولهٔ چیچلے وهٔ-"[29]

**۱۲: نکریزې:**

دا افسانه هم د قامي سوچ په اساساو د ثور انقلاب په تناظر کښې لیکلې شوې ده- د افسانې مرکزي کردار(ګل پاڼه) چې یو ځل نکریزې پورې کړې نو په کورنۍ ئې یو ناګهاني آفت په داسې صورت رانازل شي چې د هغې رور په کټ کښې مړ کورته راوړلے شي:

" هغې بیا بیا په په خپلو دواړو منګولو د ژور سور رنګ ښائسته تصور کولو، ناڅاپه یوه غوغاشوه یو قیامت د هغې د کور په درشلو رانوتو-دهغې د زلمي رور مړي ئې د خلقو په اوږو رانوتو او بیا چې کله هغه د دې صدمې نه په خود کېده نو د ورور ئې دریمه هم خوره شوې وه-"[30]

دغسې د ګل پاڼې د نکرېزو نه یوه کرکه په زړهٔ کښې پریوځې،تر دې چې په خپل وادهٔ هم نکریزې پورې نه کړي ولې کله چې د وادهٔ په کال پس هم د اولاد څه طمع ئې دهغې خوانښې محسوس نه کړي نو یو ځل ورله هغه په خپله نکریزې پورې کړي ولې دغه وخت هم د هغې زړهٔ رپېږي،او بیا شاید د هغې د دغې ویرې او وهم نتیجه وي او یا محض یو اتفاق چې د هغې په وطن یوه بمي چاودنه اوشي چې ډېر خلق په کښې مړهٔ او زخمیان شي.دغسې دې ته بیا یو ځلې د نکریزو نحوست مخې ته شي:

" هغې د ځان سره وژړل که هغه زما د ورور او کور پېښه وه نو دا هم زما د کور غم دي،دا ټول زما ورونه دي ،هغې چغې کړې،او بيا د دې احساس سره په زمکه پرېوته،هغې ته يو ځل بيا د نکريزو سره د وينو نسبت مخې ته وه-"[31]

**۱۳: ايله دوه نوړۍ:**

په دې افسانه کښې هغې خلقو ته د عقيدت پېر زوني وړاندې شوي دي ،چا چې د دې خاورې او وطن د پاره هر قسمه قربانۍ ورکړې دي-که هغه ښځې دي او که سړي،يا دواړه په شريکه لکه د دې افسانې پرخه چې د مرکزي کردار ناوې وي،خو په هر حال خپله جمهوري مبارزه جاري ساتي-او خپل غږ تر نورو رسولو په جرم کښې بندي شي-او بيا د جېل د تورو تمبو شاته د ژوند د نورو ضرورتونو سره د ښه خوراک آرزومنده ښکاري،او دغه رنګ کله چې ډېر په ګرانه چرته د هغې پيغام د هغې دژوند ملګرى ته اورسي چې وريژې غواړي- نو هغه پوره يو دېګ وريژې جېل ته اولېږي،ولې وروستو خبر شې چې په دومره وريژو کښې هغې ته صرف دوه نوړۍ په برخه رسېدلې وي-

**۱۴:وطن:**

په وطن نومې افسانه کښې اغلې حسينه ګل د يوې افغان کډوالې جينۍ قيصه بيان کړې ده.چې څنګه د غېر غمازو د کوششونو او ناپاکو ارادو په وجه پښتونخوا په دوه برخو کښې اوېشلې شوه،او د لر و بر د پښتنو تر مېنځه کرښه راښکلې شوه،دغسې ځينې خلق هلته او ځېنې دلته پاتې شول-او ځينې په هجرت مجبوره شول،ولې کوم ځاے چې د انسان زېږون شوي وي او د ماشوموالي وخت ئې اړولے وي،د هغه ځاے زمکې او خاورې يادونه داسې د هغه په ذهن نقش پاتې وي چې د وختونو دوړې ئې ترې نه شي پناه کولې- دغه شان د دې افسانې مرکزي کردار( کډواله جينۍ) هم د خپل وطن يادونو په دې زمکه ناقلاره ساتلې وي او هغه سکون او خوشحالي ورته نه وي حاصله کوم چې د هغې حق وي:

" هغې د خپل نيکه نه د خپل وطن او تاريخ چې کوم داستان اورېدلے وۀ، نو دې زمکې او دې ببرغ او سرود ته د هغې هاغه قومي تړون نه را پېدا کېدو چې دې ته ضروري وه هغې خو به و ئيل چې دا زما وطن نه دے،زما د نيکه بابا د داستان تر مخه خو زما وطن پورې وطن دے بره وطن-"[32]

**۱۵: سپرلي ګل:**

سپرلي ګل د یو جذباتي زلمي د ژوند یو رومانوي قیصه ده، چې خپل ټول ژوند ئې د ورمې سیاست او خدمت ته وقف کړے وي-او د هغې د کامیابولو د پاره خپلې هلې ځلې کوي،جلسې جلوسونو او تقریرونو کښې خپله ثاني نه لري- ګو چې د ورمې له اړخه هغه محض د یو آله کار په طور استعمالیږي.ولې د دۀ په زړۀ کښې د ورمې د پاره ډېر د مینې او خلوص جذبات وي چې تر خپله وسه ئې پټ هم ساتلي وي.او چې کله ورمه د خپل ژوند د ملګري فیصله کوي نو د دۀ یقین وي چې ورمه به هم د دۀ انتخاب کوي ولې هم خاص په هغه ګړئ هغه د سټیج نه راګزار شي او ساه ورکړي:

"یوه تېره کریکه راغله او بیا خاموشي خوره شوه درز د چغې سره اوس سپرلي ګل د اوچت سټیج نه ښکته ګوزار شوے وۀ لکه چې د هغه د ژوند او مینې سلطنت په هغه د همېشه د پاره نسکور شوے وي"[33]

**۱۲: کیسه:**

په کیسه نومې افسانه کښې د رڼا او تیارې تصادم وړاندې کړے شوے دے- او دا خبره په ډاګه کړې شوې ده- چې انسان په یو حالت کښې هم خوشحاله نه شي پېدا کیدے- مطلب دا چې که چرې یو انسان ټول عمر په رڼا کښې پاتې شي نو هغه به د تېرو په لټون ګرځي-

" چې چرته یو ګټ کښې به کښېناستم او سترګې به مې تیاره په تصور د لږ ساعت د پاره پټې کړې نو رڼا ګاني به نورې هم رانزدې شوې په سترګو کښې به مې سم چراغان شو،زړۀ به مې تنګ شو.او بیا به مې سترګې اوغړولې- زما سفر روان وۀ،د رڼا په لارو د تورې تیارې د لټون سفر-"[34]

دغه شان که عمر له انسان په تیارۀ کښې پاتې شي نو د رڼا په لټون به سرګردانه وي:

" نن په اسمان کښې ستوري هم نه وو،ځکه خو د هغه د سترګو ټول جهان توره تیاره وه،خو دې نیولې خوب او ساه ډوبې لکه چې په اسمان د ګورې یوې تورې وریځې د باران طمع ژوندۍ کړې وه،تر لرې لرې اسمان په خړه توره وریځ کښې پټ وۀ،خو کله کله به د هغه د کټ د پاسه یک یو ستوري په ډېره زړورتیا د دې لویې وریځې د پردې نه راښکاره شو،د ستوري په رڼا به د هغه د رڼا تصور هم مسکے شو،هغه ته په دې دومره ډېره تیاره کښې د دې

ورکوټې ستورې ماشومه رڼا ډېره د مزې ښکارېده-"35

مطلب دا چې يو انسان په يو حالت کښې ټول عمر له نه شي پاتې کيدې او نه يو شان حالت د ۀ ته خوشحالي وربخښلي شي. ځکه خد انسان دغي ملت کۀ يو پله غنى خان د تغير د بچى نوم ورکوي نو اقبال ئې حالت دا سې ښکاره کوي :

"سکون محال ہے قدرت کے کارخانہ میں ثبات ایک تغیر کو ہے زمانے میں "[36]

۱۷ : يور:

يور افسانه د زنانه ډلي د مخصوص ذهنيت عکاسي کوي.په دې افسانه کښې سيده حسينه ګل دا خبره په ډاګه کوي چې چې په خپلوو کښې د يور او بن رشتې چرته هم نه شي ښه کيدلے هر څو که څوک د دغه حقيقت د بدلولو کوششونه اوکړي لکه چې افسانه نګاره ليکي:

" د کور هغه روايتي خپلوي چې پښتانه ورته په هر ځاے کښې ډېر بد او د کرکې نظر کوي خو مونږ دا خپلوي د مينې په خوږو خوږه کړې وه او په ډېر احترام مو پاللې او دلته ما د پښتنو دغه منفي سوچ په دې دليل رد کړو ،چې د يور ټکے که پښتانه د تعصب او نفرت نه ډک ګڼي خو زما په ژوند کښې به دا ټکے د خور په لغت بدلېږي"[37]

او دغه شان دا د خپلې يور سره د خپلواکۍ رشته پالي خو يور ئې ورسره نه.. ځکه اخر کښې دا په دې نتيجې اورسي:

" ماته احساس اوشو چې زما مور به کومه خبره کوله نوهغه بالکل سمه وه،ځکه چې که زما سره زما د پلار د کور ډېر څه راغلي وو ،نو د ورندار د انګور سره هم ډېرې کارخانې راغلې وې،خو زۀ يور وم او هغه اينګو ر. زۀ په دې خوشحاله وم چې د خپلې پوښتنې ځواب مې پيدا کړې وۀ"[38]

۱۸ : مور:

په مور افسانه کښې هغه مينه په ډېر شدت سره بيان شوې کومه چې هغه د خپل اولاد سره لري او ورسره ورسره دغه مينه د يو تخليق کار او فنکار د مينې سره موازنه کړي شوي هم ده چې نتيجه ئې دا راوکښلې ده چې څومره يوه مور د خپل اولاد سره مينه لري دغسې يو تخليق کار يا فن کار د خپل تخليق سره لري:

" ورځو شپو نه به یوه لحظه قدرت زما د نوي تخلیق د پاره داسې مقرر کړې وه ،زۀ به د دې لمحې زړۀ ته رسېدلې وم ،د دې لمحې په لاسو کښې به زما نوي تخلیق د یو نوي زېږېدلي ماشوم په بڼه پټې سترګې خو د ژوند د ښائستونو او حرکتونو نه ډک مسکے مسکے کېدو ،ما به د خپل تخلیق ځهري ته بیا بیا کتل۔"[39]

**۱۹: تږي:**

په تږي افسانه کښې مرکزي کردار چنار د خپلې کور وداني هر مادي ضرورت پوره کوي خو د هغې جنسي تنده د تشنګۍ سره مخ وي ،ځکه د هغوي د ژوند او کور ماحول ګډ وډ وي ۔په دې افسانه کښې دا خبره واضحه کړي شوې ده چې ښځه او خاوند دواړه د یو بل ضرورت دے او یو د بل نه بغېر وخت نه شي تیرولے۔

" چنار به ټوله ورځ د خوارۍ مزدورۍ لاس پښې وهلې د ورځې د مزدورۍ ټولې پېسې به ئې ټولې په ټولې په بازار کښې پرېښوول خو زړۀ به ئې ډېر خوشحال وۀ ،د کور د ضرورت د ځیزونو سره سره به ئې د خپلو وړو وړو بچو واړه واړه خواهشات تر خپله وسه پوره کړي وو ۔ "[40]

**۲۰: سردار:**

دا افسانه د ترهګرۍ او ځان مرګي چاودنو په اړه لیکلې شوې ده او په کښې د دغه ناسور غندنه شوې ده چې څنګه د مذهب په نامه د دیني مدرسو پاک او ناپوهه ماشومان اوټکلي شي چې په خپله هم داسې مړۀ شي چې نه ئې څوک جناز ه اوکړي او نه ئې چرته مزار پاتې شي بس د غېر غماز د ناوړو مقصدونو د حصول زریعه اوګرځولے شي۔

" ټول مړي را ټول شوي وو ،خو دوه پښې یو لاس داسې هم وو چې بېل بېل پراتۀ وو ،او خلکو ویل چې دا د ځان وژونکي پښې لاس دي، یو خوا ته چا کېښودل....د سر لټون ئې کولے شۀ !!! هر چا د خپل مئین اندامونه په اوږه کړي وو خو دا دوه پښې او یو لاس چا هم نه ژړلو..څوک هم د دې دعوېدار نه وو ۔ یوه مور داسې نه وه چې دا پښې لاس ئې خپلې سینې ته راجخت کړے وے، چې ګني دا زما د بچي دي....

خو بل خوا نن په دې پېښه..د دې په خبر قلارې د خپل سردار د پښو پېزار د خپلې سينې سره کلک نيولے وۀ،او په خپل کور کښې په چغو چغو ژړېده لکه د لېونو ."[41]

د پورته ذکر شوو افسانو او د افسانو د موضوعاتو نه دا اندازه ډېره په اسانه لګېدې شي چې اغلې حسينه ګل په خپلو افسانو کښې هر هغه حقيقت بيان کړې چې د هغې زيرک نظر په خپلې ګېره کښې اخيستے دے .چرته ئې د علامت رنګ اخيستے .چرته د روايت او چرته ښېخې په ډاګه دے-خو زيات تر افسانې ئې زنانه اؤ د پښتنو ښځو د کورنې ژوند ، د هغوي د چورې شوو جذباتو او په پښتنه ټولنه کښې د هغوي سره روان نارو اسلوک په حقله دي۔

هم په دې اساس دا خبره سپينېږي چې سيده حسينه ګل محض يوه ليکواله نه ده بلکې په پښتنه معاشره کښې د ښځو او په نړيواله سطح د ټولو پښتنو يوه وکيله هم ده ، چې د قلم له لارې د دوي مقدمه ښه په نره چلوي-او هغه ټول موضوعات ئې راپره کړي چې د دوي نه مخکښې د ډېرو ليکوالانو له خوا په غرض يا بې غرضه نظر انداز کړې شوي وو لکه چې هغه په خپله وائي:

"هغه موضوعات مې راخيستي دي چې ليکل پرې يا خو زما په ژبه کښې کم شوي دي او يا ورته چا قصداً پاملرنه نه ده کړې-"[42]

هم په دې حقله اسير منګل ليکي:

"د سيده حسينه ګل خيالات نوي او موضوعات ئې بشپړ دي-دې چې د يوې ښځې په حېث څنګه د زنانه ؤ درد انځور کړے دے او دغه کردارونه ئې چې په کومه روايتي او ثقافتي ښه کښې انځور کړي دي هغه د ستايلو وړ دي-"[43]

غرض دا چې سيده حسينه ګل د پښتو افسانې هغه پيژندلے شوے نوم دے ،چې د خپل ژور فکر او روان قلم په زور ئې نه صرف د پښتو افسانې لمن ډکه ساتلې ده بلکې د خپل ځانګړي اسلوب په ستن او ښکلي نوي موضوعاتو په مهبن تار ئې پرې رنګارنګ ګلونه هم خېژولې دي- د اغلې حسينه ګل ادبي سفر چې د کال نولس سوه اتيا نه راروان دے لا تر دې دمه له خيره جاري او ساري دے . حاصل دا چې د ښاغلي افضل رضا هغه پيشنګوئي وخت رښتيا ثابته کړه چې د نن نه شل کاله مخکښې ئې کړې وه :

"د سیده حسینه ګل تنها ادبي سفر د خېره لا جاري دے لکه څنګه چې په لږه موده کښې زمونږ دې زیرکې او پوهه په لیک کښې د انفرادي رنګ مېرمنې ځانته د پښتو شعر او ادب په مېدان کښې مقام پېدا کړو دغه شان د دې فن لا د ارتقا په لارو روان ښکاري مخیر وي د پښتو ادب پنګې ته به د شعر و ادب نورې نورې معیاري فن پاري وسپاري."[44]

لنډه دا چې سیده حسینه ګل د پښتو ژبې او ادب سره یوه نه ختمیدونکې رېښتینې مینه لري او باید هم د دغه لیونۍ مینې برکت دے چې دا وخت ئې د نظم ونثر په مجموعي توګه اتلس (۱۸) کتابونه چاپ دي. او ګڼ شمیر ناچاپه آثار هم لري.چې د فن او موضوع لکه رومان،ترقي پسندیت، جنس، نفسیات، قام پرستي، طبقاتي کشمکش، وطن دوستي، انسانیت، مینه او پښتونولي په لحاظ خپل مثال پخپله دي .اغلې حسینه ګل ته د هغوي د سترو ادبي خدماتو د اعتراف په توګه د پاکستان حکومت له اړخه لوے صدارتي ایوارډ تمغه امتیاز او د افغانستان حکومت له لوري د مېوند د ملالې په نوم ایوارډ ورکړے شوے دے .

د سیده حسینه ګل ادبي سفر له د خېره نور هم مخ په وړاندې روان دے پاک رب دې ئې په ژوند او فن دواړه کښې نور هم برکتونه واچوي -

# حوالې

1. نورالامین یوسفزئ و زر محمد سنګر، پښتو افسانه او تنقید فقدان،پښتونخوا جلد اول،جولایی ـ دسمبر، ۲۰۱۲ ء،مخ ۱۹
2. اسیر منګل،د پښتو افسانې سل کلن بهیر،دویم ایډیشن،اعراف پرنټرز،پېښور، ۲۰۲۱ ء، مخ۴۰۲
3. ډاکټر عطاءالرحمان عطا، د طاهر افریدي په افسانو کښې حقیقت نګاري، ګران خپروندویه ټولنه، مارچ ۲۰۲۳، مخ ۸۰
4. اسیر منګل، د پښتو افسانې سل کلن بهیر، مخ ۲۸۸
5. سیده حسینه ګل،د اوښکو مارغان ،د افغانستان ملي تحریک فرهنګي ټولنه، افغانستان،۲۰۱۵, مخ ۳
6. هم دغه کتاب مخ ۴
7. همدغه کتاب مخ ۱۰
8. هم دغه کتاب مخ ۱۱
9. هم دغه کتاب مخ۱۲
10. هم دغه کتاب مخ ۱۵
11. هم دغه کتاب مخ ۱۶
12. هم دغه کتاب مخ ۲۰
13. هم دغه کتاب مخ ۲۰
14. هم دغه کتاب مخ ۲۱
15. هم دغه کتاب مخ۲۲
16. هم دغه کتاب مخ ۲۴
17. هم دغه کتاب مخ ۲۵
18. هم دغه کتاب مخ ۲۶
19. هم دغه کتاب مخ۲۷
20. هم دغه کتاب مخ۲۸
21. هم دغه کتاب مخ ۳۰
22. هم دغه کتاب مخ ۳۰
23. هم دغه کتاب مخ ۳۱-۳۲
24. هم دغه کتاب مخ ۳۳

25. هم دغه کتاب مخ ۳۴
26. هم دغه کتاب مخ۳۵
27. هم دغه کتاب مخ۳۸
28. هم دغه کتاب مخ ۴۰
29. هم دغه کتاب مخ۴۹
30. هم دغه کتاب مخ ۵۱
31. هم دغه کتاب مخ ۵۵
32. هم دغه کتاب مخ۶۲
33. هم دغه کتاب مخ۶۹
34. هم دغه کتاب مخ۷۲
35. هم دغه کتاب مخ ۷۱
36. کلیات اقبال، مرتب: احمد رضا ،ادارۂ اہل قلم، لاہور، ۲۰۰۵ء، صفحہ ۱۷۳
37. سیده حسینه ګل ،د اوښکو مارغان ،مخ ۷۸
38. هم دغه کتاب مخ ۷۹
39. هم دغه کتاب مخ ۸۱
40. هم دغه کتاب مخ۸۵-۸۶
41. هم دغه کتاب مخ۹۲
42. سیده حسینه ګل ،خپلې خبرې،نیمګړی کتاب،اسد دانش مطبعه،کابل،کال ۲۰۱۰ ،مخ ذ
43. اسیر منګل،د پښتو افسانې شل کلن بهیر، مخ۲۸۹-۲۹۰
44. افضل رضا ، پنځه شمعې، پښتو اکېډمي پېښور، ۲۰۰۲، مخ ۵۲۵

## References:

1. Yousafzai, Noor Ul Amin. Sangar, Zar Muhammad. *Pukhto Afsana Aw Tanqeed Fuqdaan*, Pukhtunkhwa Vol.1, July-Dec 2016, p19
2. Mangal, Aseer. *Da Pukhto Afsaani Sal Kalan Bahir*, Second Edition, Aaraaf Printers Peshawar, 2021, p206
3. Atta,Dr. Atta Ur Rahman. *Da Tahir Afridi Pa Afsaano Ki Haqiqath Nigari,* Gran Khprawandoya, Tolana, March 2023, p80

4. Mangal. *Da Pukhto Afsaani Sal Kalan Bahir*, p288
5. Sayyeda Hasina Gul, *Da Ukhko Marghaan*, Da Afghanistan Mili Tehreek Farhangi Tolana, Afghanistan, 2015, p3
6. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p4
7. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p10
8. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p11
9. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p12
10. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p15
11. Gu. *Da Ukhko Marghaan*, p16
12. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p20
13. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p20
14. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p21
15. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p22
16. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p24
17. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p25
18. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p26
19. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p27
20. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p28
21. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p30
22. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p30
23. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p31-32
24. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p33
25. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p34
26. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p35
27. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p37
28. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p40
29. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p49
30. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p51
31. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p55
32. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p62
33. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p69
34. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p72
35. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p71
36. Raza,Ahmad. Kulyat e Iqbal, Idara Ehl e Qalam, Lahore, 2005, p173
37. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p78
38. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p79

39. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p81
40. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p75-76
41. Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p96
42. Sayyeda Hasina Gul, *Khpli Khabari, Nimgarey Kitab*, Asad Danish Matba, Kabul,2010, pX Gul. *Da Ukhko Marghaan*, p4
43. Mangal. *Da Pukhto Afsaani Shal Kalan Bahir*, p525
44. Raza, Afzal. *Pinza Shami*, Peshawar, 2006, p525